# افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان

## AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد

همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com www.afgazad.com

| سیاسی | Political |
|---|---|



شعر از: محمد هاشم «زمانی»

بازتایپ و ارسال از: دپلوم انجنیر نسرین معروفی


۲۷ جنوری ۲۰۱۴

# په یوه چوکی جنگونه به کابل کی وی تر څو؟

دا شورونه؛ فـــــــریادونه به کابل کی وی تر څو؟ خونــــــریزی او دا قتلونه ؛ به کابل کی وی تر څو؟

په هر کور کښــی د کابل اوس مقبره جـــــوړه شوی دا کـــــورونه مو گورونه ؛ به کابل کی وی تر څو؟

دلسوزی زړونو کښی نشته زړونه یی لکه ډبـــــری د سنگدلانو دا سخت زړونه ؛ به کابل کی وی تر څو؟

د یوی چوکۍ د پاره په لکونـــــــــو خلک وژنی چور چپاد غارت ظلمونـــه ؛ به کابل کی وی تر څو؟

د کابل ښار یی نیولـــــــــــــــی گروگان دی د بربرو وحشتونـــــــــه ؛ به کابل کی وی تر څو؟

آذوقه پدی بندی کړی دا دویمه کـــــــــــربلا ده د یزید شمـــــــــر قتلونه ؛ به کابل کی وی تر څو؟

خپل وطن ورانوی خپله چا وران کړی خپل وطن دی وطـــــــن ورانو یرغلونه ؛ به کابل کی وی تر څو؟

چی د ښځـــــــــــو مکتبونه د فحشا په نامه بولی لعنتیانـــــــــــو دا جهلونه ؛ به کابل کی وی تر څو؟

نوی علم دښمنان دی واقعی منافقـــــــــــان دی ابو جهـــــــــــل د اولادونه؛ به کابل کی وی تر څو؟

ټول خودکش بیگانه پرست جــــــــــاه طلبان دی په یوه چوکی جنگـــــــونه ؛ به کابل کی وی تر څو؟

اسلامی جمهوریت پدی لعـــــــــــــــنت وایی د اسلام پر ضد کارونـــــه ؛ به کابل کی وی تر څو؟